
مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د وري ۲۸مه | د ۲۰۱۹ د اپریل ۱۷مه | دویم کال| ۳۶۵مه ګڼه

## ولسي جرګې ته بریالي نوماندان:

# که وروستۍ پایلې اعلان نه شي لویه جرګه تحریموو


۳

حکومتي لېست، هدف او قطر ته يې د ورتګ شونتیا
۲ مخ

نالوستي لیکونه
(دربیمه برخه)
۲ مخ

نوی کال نوی ژوند؛ تکراري ژوند مه کوئ!
۵ مخ

## وروستیو سېلابونو په بېلابېلو ولایتونو کې ۱۲۷ کسان وژلي دي

د وروستیو اوربښتونو او سېلابونو له امله د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې عامو خلکو ته ډېر مالي او ځاني زیانونه اوښتي دي. طبیعي پېښو ته د رسېدنې په برخه کې د دولت وزارت چارواکو ویلي، په تېرو څو ورځو کې د سېلابونو له امله ۱۲۷ کسان وژل شوي دي او د پلازمېنې کابل په ګډون، په ځینو نورو ولایتونو کې ډېر کورونه نړېدلي او سلګونه کورنۍ له خپلو مېنو بېځایه شوې دي. په ورته وخت کې ولسمشر اشرف غني هم د کابل په قلعه واحد کې له سېلاب ځپلو سره له عاجلو مرستو سره هممهاله، پر کابل سیند باندې د استنادي دېوالونو جوړولو او د غاصبینو له منګولو څخه د دغه سیند د خلاصون ژمنې کړې دي. په کابل کې سېلاب ځپلې کورنۍ وایي چې له دوامداره ګواښ سره مخ دي او حکومت باید ژر تر ژره د دوی ستونزې حل کړي.

طبیعي پېښو ته د رسېدنې په برخه کې د دولت وزارت ویلي، چې جغرافیوي او امنیتي ستونزې د دوی د کار پر وړاندې عمده خنډونه دي.

طبیعي پېښو ته د رسیده ګۍ په برخه کې د دولت وزارت معین محمد قاسم حیدري ویلي: «له بده مرغه چې زموږ کاري ټیمونه نه شي کولای د هېواد په ټولو برخو کې ستونزو ته رسیده ګي وکړي، خو له دغو ستونزو سره سره، بیا هم وضعیت په ښه شان مدیریت شو».


که څه هم مسوولې اداري طبیعي پېښو ته د رسېدنې په برخه کې د بشپړ چمتووالي خبر ورکوي، خو خلک نیوکه کوي چې حکومت یوازې د حادثاتو د واقع کېدو پر مهال د تدابیرو او اقداماتو خبرې کوي، خو عملاً له پېښو څخه د مخنیوي او مدیریت په برخه کې ناکام دی.

## حکومت د دوحې ناستې ګډونوالو ۲۵۰ کسیز نوملړ اعلان کړی دی


۳ مخ

کتاب
۴ مخ

## د ژباړې لار




د کتاب تر ټولو ښه ځانګړنه دا ده، چې د همدې لارې(ژباړې) په برخه د لیکوال د تجربو پر اساس لیکل شوی دی. پر هغو مسایلو په کې بحث شوی او هغه غوټې په کې خلاصې شوې دي، چې د دغه لارې تلونکي ورسره مخ دي.

## په اتو ولایتونو کې د اوبو لګولو ۳۱ شبکې جوړېږي



د کرنې وزارت ویلي، د ۴۷۱ میلیونو افغانیو په لګښت د هېواد په اتو ولایتونو کابل، ننګرهار، کونړ، هرات، بلخ، بغلان، پروان او لوګر کې د اوبو لګولو ۳۱ شبکې جوړېږي، چې نږدې نهه زره کورنۍ به ترې ګټه اخلي.
د یاد وزارت چارواکو ویلي، د اوبو لګولو دغه شبکې ۱۱زره او ۴۵۴ هکټاره کرنیزې ځمکې خړوبوي او د دغو شبکو له اوبو به اته زره او ٦٨٥ بزګر او بڼوال ګټه اخلي.
د چارواکو په خبره، د اوبو لګولو د دغو شبکو جوړول د اوبو مدیریت ښه کوي او د اوبو د ضایعاتو کچه ټیټوي او تر څنګ یې د دې لامل کېږي، چې د کرنیزو محصولات تولید ډېر او کیفیت یې ښه شي.
د دوی په خبره، دغه شبکې د کرنې وزارت د دوو برنامو CLAP او SNaPP-2 له خوا پلې کېږي او د کرنې د پراختیا لپاره د نړیوال مرستندوی صندوق «IFAD» له خوا تمویلېږي.

## باشندگان کندز: در جنگهای اخیر خسارات هنگفتی متحمل گردیدیم



شماری از باشندگان کندز می‌گویند که تشدید نا امنی‌ها و بخصوص جنگ‌های اخیر در آن ولایت، خسارات مالی هنگفتی را به آنها وارد کرده و در صورت ادامهٔ چنین وضعیت، مجبور به ترک خانه شان خواهند شد.
این در حالی است که پنج روز قبل، بیش از ۲۵۰ طالب خارجی و داخلی، شب هنگام بالای شهر کندز حمله نمودند که با مقاومت نیروهای امنیتی عقب زده شدند.
مسئولان امنیتی این ولایت می‌گویند که طالبان به هدف سقوط شهر کندز حمله کرده بودند؛ اما با مقاومت نیروهای امنیتی به هدف شان نرسیدند.
باشندگان این ولایت می‌گویند که درگیری های سه روزه، علاوه بر تلفات افراد ملکی؛ سبب تخریب تعدادی ازمنازل مسکونی، حریق شرکت‌های گاز و تانک‌های تیل شده و ساکنان این ولایت را با مشکلات وچالش های زیادی رو به رو کرده است.
متین یوسفزی یک تن از مالکان یک شرکت گاز، تیل و باشنده بندر خان آباد ولایت کندز، از خساراتی که در نتیجهٔ درگیری‌های اخیر به اوعاید گردیده، سخت نگران است .
یوسفزی افزوده است که در حمله طالبان که چهار شب قبل بالای دروازه بندر خان آباد صورت گرفت، نه تنها منزل مسکونی وی، بلکه شرکت گاز وتیل او که در نزدیکی محل رویداد بود؛ خساره دیده است. وی افزوده است: «نیروهای امنیتی داخل خانه ما شد و از آنجا بالای طالبان شلیک کرد و بعداً درگیری شدید میان آنها رخ داد که با اصابت مرمی به شرکت گاز ما آتشسوزی صورت گرفت».


## اعلان!

شرکت طلوع آرمان شهر می‌خواهد یک مقدار اجناس را که شامل لوازم برقی، دفتری، فرینچر، وسایل آشپزخانه، پرزه جات و وسایط نقلیه را در یک پروسه مزایده لیلام نماید.
از تمام داوطلبان واجد شرایط که علاقمندی اشتراک در این لیلام را دارند، لطف نموده به شماره تلیفون 0799305020 در تماس شده. شرطنامه را ملاحظه نموده و فورم ثبت نام را خانه پری نموده و الی تاریخ 29 حمل سال 1398 روز پنجشنبه، آدرس الکترونیکی این شرکت ارسال نمایند. ثبت نام از طریق آدرس الکترونیکی ذیل صورت می‌گیرد:
info.tasl.company@gmail.com

**محل برگزاری و تاریخ لیلام بعداً از طریق تلیفون اطلاع داده می‌شود**

## دریـــځ

### حکومتي لېست؛ هدف او قطر ته یې د ورتګ شونتیا

حکومت لـه اوږده ځنـډ او لانجـو وروسـته د قطر پـه غونـډه کـې د ګـډون لپاره د ۲٥۰ کسـانو لېسـت اعـلان کـړ. پـه دغه لېسـت کـې د حکومـت د سـیاسي مخالفینـو ترڅنـګ، ډېر حکومتـي چارواکـي او د سـولې ضد کسـان هم شـته. حکومـت وایـي چـې دغه کسـان بـه قطر تـه ورځـي، خـو طالبانـو لا هم نـه ده منلې چې دوی د حکومـت لـه خوا له خپاره شـوي لېسـت سره موافـق دي او لـه دغـو کسـانو سره خبرې کوي.

حکومـت ولـې دغـه لېسـت اعـلان کـړ او د دې شـونتیا شـته چې دا کسـان به قطر ته ورشي او لـه طالبانـو سره به خـبرې وکړي؟

پر حکومت فشـار و چې لـه طالبانو سره د خبرو لپـاره دې یـو ور پـلاوی وټاکـي. زلمـي خلیلزاد پـه خپلـو وروسـتیو مرکو کـې ویلي هـم وو، چې لـه حکومته یې شـپږ میاشـتې وړاندې غوښـتي چـې پـلاوی وټاکـي، خـو حکومـت پـه شـپږو میاشـتو کـې دغـه کار ونـه کـړ. اوس چـې لـه مسـکو وروسـته په قطر کې دویمه بین الافغاني غونـډه کېـږي، نو پر حکومت فشـار و چې خپل اسـتازي وټاکـي او دغه اسـتازي به د افغانانو په لـوی پـلاوي کـې قطـر تـه ورځـي او لـه طالبانو سره بـه خبرې کـوي. حکومـت د همـدې چارې لپاره د مصالحې عالي شـورا وټاکله، خو په دې شـورا کـې هم سـتونزې پیدا شـوې او بریالي نه شـول چې یـو پلاوی وټاکـي. د قطـر غونډې ته دوې ورځـې پاتـې دي، حکومـت د دې لپـاره چـې د پـلاوي د نـه ټاکلو لـه امله ګـرم ونه ګڼل شي، نـو یـو پـلاوی یـې اعـلان کـړ. حکومت او هغـوی چې پر دې مسـایلو پـوه دي، درک کوي چې طالبـان بـه دغه لېسـت رد کـړي او خبرې بـه ورسره ونـه کـړي؛ خـو بیـا هـم دغـه لېسـت اعلان شـو. حکومـت غواړي په دې سره وښـیي چـې دوی پـلاوی وټاکـه، نو ملامت نـه دي، خو دا طالبـان وو چـې د دوی لـه خـوا اعلان شـوی لېسـت یـې رد کـړ او ورسره ویـې نـه کتل.

طبیعـي ده چـې طالبـان بـه دغـه لېسـت رد کـړي او ویـل کېـږي هـم چـې لـه دغـه لېسته یـوازې لـه شـپېتو کسـانو سره توافق لـري او نور نـه منـي. طالبـان پـه څـو دلایلـو دغـه لېسـت ردوي. لومـړی دا چـې لېسـت حکومـت اعـلان کـړ او داسـې ښـودل کېـږي چـې ګواکـې د سیاسـتوالو، ګوندونـو، مـدني ټولنـې او نـورو برخـو اسـتازي هـم د حکومـت لـه خـوا ټـاکل شـوي دي. پـه دې ډول اصلـي طـرف حکومـت دی او دا هغـه څـه دي چـې طالبان یې منلو ته تیـار نـه دي. دویم دا چې په لېسـت کې ځینې مهـم سـیاسي مـشران نشـته. درېیـم دا چې په لېسـت کـې د سـولې ضد او جګړه خوښـوونکي کسـان دي. څلـورم دا چـې په لېسـت کې لویه برخـه کسـان حکومتـي دي. پنځـم دا چې ډېر حکومتـي کسـان د ځوانانـو، ښـځو او مـدني ټولنـې د اسـتازو پـه نامـه پـه دغـه لېسـت کـې غـوره شـوي دي. لـه همـدې املـه بـه طالبـان دغـه لېسـت رد کـړي.

اوس چـې ښـکاري طالبـان د حکومـت لېسـت ردوي، نـو د دې شـونتیا هـم شـته چـې غونـډه وځنډېـږي او یـا هـم لغـوه شي؛ خـو تـر دې دا شـونتیا ډېـره ده چـې غونـډه وشي او ګډونـوال یـې ډېـری هغه کسـان وي، چـې نومونه یې څو ورځـې وړانـدې پـه لومـړني لېسـت کـې خپـاره شـوي وو او دغـه نومونـه قطـري پـلاوي له ځان سره کابـل تـه راوړي وو.



# نالوستي لیکونه

لیکنه: عبدالباري جهاني - درېیمه برخه:

**د امیر حبیب الله خان او نصرالله خان اړیکې:**

په هغه اندازه چې امیر حبیب الله خان د هېواد د عصري کولو او عصري اصلاحاتو طرفدار و، په هغه اندازه یې ورور سردار نصرالله خان مذهبي سړی و. د پیرانو او حضرتانو تر اغېزې لاندې و او تقریباً یوازینی هدف یې له انګرېزانو سره جګړه کول او له سیمې څخه شړل ګرځولی و. سردار نصرالله خان پوهېدو چې انګرېزان، په افغانستان کې تر بل هر چا د امیر حبیب الله خان ملاتړ کوي او څو چې له هغه سره د انګرېزانو ملاتړ ملګری وي، د ده لپاره به د قدرت نیول ګران څه چې غیر ممکن وي. د سردار لپاره د قدرت د نیولو یوازینی لاره د انګرېزانو پر ضد د جهاد اعلانول او د خپل قدرت لپاره د لارې هوارول وو. د ده په فکر، امیر حبیب الله خان کولای شوای چې قدرت د خپل پلار په څېر، یوازې تر خپل ځان محدود کړي او بالاخره یې خپلو زامنو ته وسپاري. سردار نصرالله خان خپله چاره په اوبو کې لیده؛ ځکه یې تر مرګه له خپل ورور سره جوړه ونه کړه.

د انګرېزانو استازی د ۱۹۰۸ ز کال د ډسمبر پر نهمه رپوټ کې لیکي: «سردار عنایت الله خان د هغو وظایفو په سرته رسولو کې، چې امیر تازه ورسپارلي دي، خپل لیاقت ښیي. دی سخت کار کوي او له کار سره ډېره علاقه ښیي. ده ته د ټول افغانستان د ملکي او نظامي چارو اداره سپارل شوې ده. امیر حبیب الله خان امر کړی دی چې د سردار عنایت الله خان پر کور باندې بیرغ ودرول شي. سردار نصرالله خان یوازې بهرنۍ چارې پرمخ بیایي او د هغه پر کور هم بیرغ رپېږي. له تېرو دوو میاشتو راهیسې، امیر او سردار نصرالله خان خپل وخت په سات تېرې مصرفوي. امیر هغه له ځان څخه نه جلا کوي او د پخوا په خلاف یې زیاتره وخت له ځان سره ساتي. په دې توګه سردار عنایت الله خان ته د دې فرصت ورکوي، چې په دولتي چارو کې نور هم خپل نفوذ زیات کړي».

د انګرېزانو استازی د همدې میاشتې په شپاړسمه په خپل یوه بل رپوټ کې لیکي: «سردار عنایت الله خان ته ورځ تر بلې د امیر توجه زیاتېږي. امیر پخوا هغه ته هېڅ وخت دومره قدر نه و ورکړی، چې په بګۍ کې یې له خپل څنګ سره کښېنولی وای. په تېره اونۍ کې دوه ځلې لیدل شوي دي، چې هغه په بګۍ کې د خپل پلار له څنګ سره ناست وي. سردار عنایت الله خان په ډېرې هوښیارۍ سره د خپلې میرې، علیا حضرتې توجه ور اړوي او داسې ښکاري چې له هغه اړخه د ده پرمختګ ته کوم خطر متوجه نه دی».

له دغو رپوټونو او نورو تفصیلاتو څخه په ښرګنده معلومېږي، چې سردار نصرالله خان په خپلو اندېښنو کې پر حقه و او باید چې په یوه چاره پسې یې کتلي وای.

د انګرېزانو استازی د ۱۹۰۸ ز کال د سپټمبر په دویمه په خپل رپوټ کې لیکي: «د ورځپاڼو دغه رپوټونه چې په کابل کې د یوه ښکاره بغاوت په باره کې خپاره شوي دي، ټول بې اساسه دي. په اوس حالت کې سیاسي وضعه دومره پېچلې ده، چې سړی په یقین سره نه شي ویلای، چې وروسته به څه پېښ شي».

کله چې زه په عامو محفلونو کې، سردار نصرالله خان او امیر یو ځای سره وینم؛ نو دا چنداني نه شم منلی چې هغه سردار چې زه یې په سترګو وینم او هغه سردار چې زه یې په باره کې دومره زیات شیان اورم؛ یو سړی دی. دی د امیر دومره اطاعت او درناوی کوي، چې حد نه لري او پرته له دې چې له ځان سره دې لږ غوندې سلا وکړي، د هغه ټول اوامر مني او عملي کوي یې. امیر هم سردار ته ډېره توجه کوي او د هغه له توجه څخه ګرانښت او اعتماد څرګندېږي. مګر دا یوازې د خلکو د تېر ایستلو لپاره ظاهري کارونه دي. د کابل اکثریت خلک پر دې عقیده دي، چې امیر په باطن کې له سردار څخه وېرېږي او د هغه د غوښتنو منلو ته مجبور دی او سردار چې هم د امیر دغه ظاهري احترام او اطاعت کوي، مطلب یې یوازې د اذهانو تېر ایستل دي. په حقیقت کې دی خپل کار کوي او خپل ورور امیر ته وفاداري نه لري.

د قدرت او صلاحیت په برخه کې زه یوازې دومره ویلای شم، څو چې امیر د هېواد پاچا وي، نو د هر څه قدرت ورسره دی. سردار د هغه نایب دی او تر هغه را لاندې قدرت او صلاحیت لري. مګر د نایب د صلاحیت ترڅنګ یې د ملایانو چمونو ته ملا تړلې ده او په دې توګه یې ډېر زیات قدرت تر لاسه کړی دی. هغه د نورو مذهبونو په مقابل کې د نفرت او تعصب په ښودلو سره خلک د ځان طرفدار کړي دي. تر هغو چې دغه حالات وي، نو ژر یا وروسته د یوه انفجار انتظار ایستل کېدلای شي. مګر خبرې دومره خرابې نه دي، چې چا ته دې په نږدې راتلونکې کې د حالاتو د ډېرو خرابېدلو اندېښنه پیدا کړي؛ دا البته په دې شرط چې داسې فوق العاده څه پېښ نه شي، چې حالاتو ته اني تغیر ورکړي».

امیر حبیب الله خان پوهېده چې هم د خپلو اصلاحاتو د پروګرام د عملي کولو، هم د تخت او تاج د ساتلو او هم د ژوندانه د عیش او عشرت او سات تېریو لپاره د انګرېزانو مرستې ته اړ دی او تر څنګ یې، په هماغه اندازه د پیرانو او مُلایانو ملاتړ ته ضرورت لري او که کله نا کله له هغوی سره سر ونه ښوروي، هغوی کولای شي چې له تخته یې وپرزوي او یا لږترلږه ستونزې ورته پیدا کړي. خو د هغه که له انګرېزانو سره مخالفت په وس پوره نه و، نو له مُلایانو او پیرانو سره یې هم ډغرې نه وهلې. امیر تر ډېره وخته پورې هم پر مېخ او هم پر نال وهلو پالیسي غوره کړې وه. کله چې به په ازادو قبایلو کې د جنګونو له زور اخیستلو سره په افغانستان کې د جهاد او غزا نارې پورته شوې، نو دی به د حضرتانو او اخوندانو ملګری شو او کله چې به پښتنو په جنګونو کې ماتې وخوړه او تلفات به یې ولیدل، نو امیر به هم له جهاد څخه لاس واخیست او حتی پر ضد به یې ودرېد.

د انګرېزانو استازی د ۱۹۰۸ ز کال د مې د یوویشتمې په رپوټ کې لیکي: «سردار نصرالله خان په دې وروستیو شپو ورځو کې، د تګاو یوه مُلا ته چې په ملاصاحب مشهور دی، څلور زره روپۍ ورکړې دي چې له غازیانو سره مرسته وکړي. دغه مُلا په تګاو کې ډېر نفوذ لري او امیر د کال ۱٥۰۰ روپۍ او څو خرواره غله ورکوي.

سردار نصرالله خان امیر ته پټه مشوره ورکړې وه چې په سر حد کې له غازیانو سره د مرستې لپاره یو ټولی پیاده او یو ټولی سپاره عسکر واستوي. امیر د سردار نصرالله خبره ونه منله، مګر دومره یې ورته وویل چې که افغانان غواړي په جنګ کې برخه واخلي، دی به یې را ونه ګرځوي؛ مګر عسکر به ځکه د جنګ لپاره سرحد ته ونه لېږي، چې له برېټانیې سره یې تړون کړی دی، چې نه به برېټانیه د افغانستان د حکومت پر ضد جنګ پیلوي او نه به د افغانستان حکومت د جنګ ابتکار اخلي. خو سردار له غازیانو سره پر مرستې باندې ډېر زیات ټینګار کوي او له هغوی سره له ډېرو پټو لارو مرستې کوي. په یوه کال کې د سردار د لیدلو لپاره، ډېرې زیاتې قومي جرګې راغلې دي. سردار د هغوی ډېر درناوی کړی دی. سردار دغه راز له ډېرو زیاتو ملایانو سره پرله پسې او پټې غونډې کړې دي».

د برېټانیې استازی د ۱۹۰۸ ز کال د مې د اتلسمې په رپوټ کې لیکي: «د ماسي صاحبزاده چې په مازون مشهور دی او ډېر زیات نفوذ او مریدان لري، د مې په درېیمه کابل ته را ورسېد. امیر په هغه ورځ د ټوپکو پر تمریناتو بوخت و. کله چې امیر ته د صاحبزاده د راتللو رپوټ ورکړل شو، نو هغه په سبا په ارګ کې خبرو ته بلنه ورکړه. په خبرو کې سردار نصرالله خان او څو تنه نور درباریان حاضر وو. امیر د مې په پنځمه، صاحبزاده ته شپاړس ټوپک او ۱۲۰۰ روپۍ ورکړې او هغه هم سمدستي له ۱۲۰۰ غازیانو سره د پېښور د سرحد پر لور جنګ ته روان شو. د تګاو د سپه سالار ورور محمدیار له امیر څخه تر اجازې اخیستلو وروسته، له ۴۰۰ جنګیالیو سره جنګ ته روان شو. د بتخاک یو مشهور مُلا چې له امیر څخه د کال څو سوه روپۍ اخلي، له ٦۰۰ جنګیالیو سره جنګ ته روان شو. هغه یو لیک امیر او سردار نصرالله خان او بل یې خپل کورته لېږلی او په هغو کې یې لیکلي وو، چې د شبقدر ښار یې نیولی او سوځولی دی او ډېر ژر به پېښور ونیسي. د دښمن په سل هاوو عسکر یې وژلي دي او خلکو ته چې دغه رپوټونه رسېږي، نو له خوشالیو په جامو کې نه ځایېږي.

د کوهستان خلکو هم د سرحد پر لور حرکت کړی دی. د کوهستان درې اخوندزاده ګان د مې په دویمه او دوه نور یې د مې په پنځمه کابل ته راغلل. دوی له سردار نصرالله خان سره وکتل او هغه پر شا وټپول. دغه اخوندزاده ګان د سل هاوو جنګیالیو په ملتیا جنګ ته روان شوي دي.

کله چې یو مُلا یا نور کسان امیر ته ورځي او له هغه سره په جهاد کې د برخې اخیستلو اجازه اخلي، نو امیر عموماً ورته وایي چې زه چاته په جنګ کې د برخې اخیستلو هدایت نه کوم، مګر څوک راګرځوم هم نه او هر څوک د خپلې خوښې اختیار لري. امیر معمولاً خپلې خبرې په دې خبرې سره پای ته رسوي، چې ځئ پر خدای مې سپارلي یاست.

ډېرو پوځیانو هم له امیر څخه په جنګ کې د برخې اخیستلو غوښتنه کړې ده او امیر ټولو ته دغه یو ځواب ورکړی دی. مګر امیر پوځیانو ته ویلي دي چې که په جنګ کې برخه اخلي، نو په عسکري یونیفورم کې به نه ځي، خو ټوپک ورسره اخیستلای شي. په ډکه کې عسکري قوماندان ته هدایت ورکړل شوی دی، چې داسې اوازه ګډه کړي چې امیر هغه ته امر کړی دی، چې هېڅوک نه شي کولای، د امیر له اجازې پرته په جنګ کې برخه واخلي. قوماندان ته پټ ویل شوي دي، چې هېڅوک په جنګ کې له برخې اخیستلو څخه را ونه ګرځوي».

له انګرېزانو سره د جهاد کولو په مسئله کې د امیر دې شوق او تودوخې تر ډېره وخته دوام ونه کړ او هغه ډېر ژر د جهاد پر ضد داسې اقدامات پیل کړل، چې بیا تر ډېره وخته پورې چا د انګرېزانو پر ضد د غزا او جهاد نوم اخیستلای نه شوی. د انګرېزانو استازی د خپلو ورځنیو یاداښتونو په سلسله کې، د ۱۹۰۸ ز کال د مې په اتلسمه په خپل رپوټ کې لیکي: «د مې له دویمې څخه د مې تر شپږمې پورې په ارګ کې د مشورتي شورا په غونډو کې ډګروالانو، قوماندانانو، جنرالانو، سردارانو او د تورن له رتبې پورته مخورو او مهمو کسانو برخه درلوده. په دغو غونډو کې اعتمادالدوله عبدالقدوس خان، مستوفي الممالک محمدحسین خان، ایشک اغاسي او نور مهم کسان شامل وو (دا مهمه ده چې په رپوټ کې د سردار نصرالله خان نوم نه دی راغلی). د غونډې جریانات په مطلقه توګه محرم وو او هېڅ یوه خبره یې د باندې ونه وتله. امیر امر کړی و چې د غونډې هېڅ یوه خبره باید د باندې ونه ایستل شي. د مې په شپږمه د ماسپښین په څلورو بجو چې غونډه پای ته ورسېدله، د کابل مهمو کسانو ته اوامر صادر شول، چې د ټولو سیمو د هغو کسانو لېستونه برابر کړي چې له انګرېزانو سره د غزا په نیت له ښاره وتلي دي. دغه راز ټولو هغو کسانو ته چې سرحد ته یې د تللو خیال درلود، امر شوی دی چې د امیر په مخ کې حاضر کړل شي، څو په توقیف کې وساتل شي. دغه راز رپوټ ورکړل شوی دی چې د دې مشورتي شورا غونډې به د امیر په غیاب کې هم دوام کوي... له دې نېټې وروسته هېڅوک د غزا په نیت، له ښاره نه دي وتلي... امیر د ماسي صاحبزاده، چې له ٦۰۰ تنو سره له کابل څخه وتلی او د جهاد لپاره یې سړي او پیسې جمع کول، د نیولو حکم وکړ. رپوټ وایي چې صاحبزاده راوستل شوی دی؛ خو امیر ته نه دی پېش شوی او په بندیخانه کې ناست دی».

د انګرېزانو د استازي د مې دې درویشتمې له رپوټ څخه په څرګنده ښکاري، چې امیر د انګرېزانو پر ضد د جهاد او غزا په برخه کې خپل دریځ د مستوفي محمدحسین خان له هغه رپوټ څخه وروسته بدل کړ، چې د مشورتي شورا په غونډو کې یې وړاندې کړی او ویلي یې وو: «... برېټانیې تر اوسه پورې د غازیانو له لاسه دومره تلفات نه دي لیدلي، چې هغوی دې وارخطا کړي. له سرحد څخه راغلي رپوټونه فقط دومره وایي چې ډېر زیات شمېر غازیان له جنګیالیو سره یو ځای شوي او نور هم پر لارو دي. د بتخاک د ملا دغه رپوټ چې وایي، برېټانیې ته ډېر درانه تلفات اوښتي دي، بلکل دروغ ثابت شوی دی. د غازیانو مواد او منابع، حتی د عملیاتو په پیل کې دومره لږ دي، چې دوې ډوډۍ په یوه روپۍ نه پیدا کېږي. که د غازیانو شمېر نور هم زیات شي، نو دا خبره یقیني ده چې دوی به له لوږې مړه شي. په مقابل کې د غازیانو دښمنان دومره قوت او منابع لري، چې هېڅ وخت به له کمبود سره مخ نه شي او کولای شي چې جنګ ته څو کاله دوام ورکړي. امیر د دغه رپوټ په اورېدلو ډېر خوشاله شو او له هغه سره یې خپل بشپړ توافق وښود. یوه ورځ وروسته پر دغه رپوټ باندې بیا د دوو ساعتونو لپاره بحث وشو. مشورتي شورا د رایو په اتفاق، د محمدحسین خان له رپوټ سره موافقه وکړه او غونډه په هماغه ورځ پای ته ورسېده».

په زړه پورې خبره دا ده چې د مشورتي شورا له پای ته رسېدلو او د جهاد او غزا پر ضد د امیر له دومره سختو او قاطع اوامرو سره سره هم ځینو عالي رتبه مامورینو سرغړونه کوله او له غازیانو سره یې مرستو ته دوام ورکاوه. سردار نصرالله خان چې د خپل لوړ مقام او صلاحیت سره سره یې د مشورتي شورا په دومره مهمو غونډو کې برخه نه درلوده او یا برخه نه وه ورکړل شوې، تر پایه د غازیانو له ملاتړ څخه لاس وانه خیست او د هغه یو طرفدار او ملګري ناظر محمدصفر خان، چې امین اطلاعات یا د هغه وخت د استخباراتو رییس و، له غازیانو سره پټې مرستې کولې. د انګرېزانو استازی په همدغه رپوټ کې وایي چې: «ناظر محمدصفر خان غازیانو ته ۲۰۰ ټوپکونه ورکړل. امیر خبر شو او ناظر یې ځکه بندي کړ، چې د امیر له مر څخه یې سرغړونه کړې وه».

البته محمدصفر خان له سردار نصرالله خان سره د نږدې اړیکو لرلو له برکته، بېرته خوشې شو او یو څه وخت وروسته د بدخشان والي شو. په داسې حال کې چې د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې نه چا د هغه له امر څخه د دومره څرګندې سرغړونې زړه کولای شوی او نه یې د سرغړونې په صورت کې د ژوندي پاته کېدلو تمه کولای شوی.

**دوام...**

### ولسي جرګې ته بریالي نوماندان:

# که وروستۍ پایلې اعلان نه شي لویه جرګه تحریموو



ښايي ولسي جرګې ته بریالي شوي نوماندان هم مشورتي لویه جرګه تحریم کړي. په دې وروستیو ورځو کې ډېرو سیاسي ډلو او ولسمشریزو ټاکنو ته نوماند کسانو او ټاکنیزو ټیمونو د سولې په اړه جوړېدونکې مشورتي ناسته تحریم کړې ده. تازه ولسي جرګې ته نویو بریالیو نوماندانو هم خبرداری ورکړی، که حکومت د ولسي جرګې پایلې ژر اعلان نه کړي، ښايي دوی یاده جرګه تحریم کړي.

د ولسي جرګې ځینو هغو نوماندانو چې په ابتدايي او نهايي پایلو کې بریالي اعلان شوي او ځینو ته یې ټاکنیزې وثیقې هم ورکړل شوې دي، د پاتې ولایتونو د نهايي پایلو د اعلان غوښتنه کړې ده. یادو نوماندانو ویلي چې له شپږ میاشتني ځنډ سره سره، ټاکنیزو کمېسیونونو د ولسي جرګې ټاکنو وروستۍ پایلې اعلان نه کړې او که ټاکنیزو کمېسیونونو تر راتلونکو لسو ورځو د ولسي جرګې ټاکنو ټولې پایلې اعلان نه کړي، دوی به لویه مشورتي جرګه تحریم کړي.

د ولسي جرګې غړي کمال ناصر اصولي چې په وروستیو پایلو کې هم بریالی اعلان شوی ویلي، ټاکنیز کمېسیونونه دې ژر تر ژره د پاتې ولایتونو وروستۍ او لومړنۍ پایلې هم اعلان کړي. اصولي ویلي: ((ډول ډول ګنګوسې خپرېږي. موږ ته ارزښت نه لري، خو دا مو غوښتنه ده چې ژر تر ژره وروستۍ پایلې اعلان کړي)). د نوموړي په خبره، که کمېسیونونه دغه کار ونه کړي، دوی به په ولایتونو کې لاریونونه وکړي او د خلکو په پرېکړه به مشورتي لویه جرګه تحریم کړي.

بلخوا بیا ځینې یاد نوماندان پر دې باور دي، چې افغانستان په خورا ترینګلي وضعیت کې دی. د دوی په خبره، له یوې خوا د سولې خبرې روانې دي، له بلې خوا ولسمشریزې ټاکنې ځنډول شوې دي او بلخوا په دې نږدې ورځو کې مشورتي لویه جرګه جوړېږي؛ نو په دې مهم او اساس وخت کې د پارلمان او ولسي جرګې موجودیت ته جدي اړتیا ده.

ولسي جرګې ته بریالۍ شوې نوماندې شینکۍ کروخېل بیا خبرداری ورکوي، که کمېسیونونه د ولسي جرګې پایلې په وخت اعلان نه کړي، نو ښايي په هېواد کې روان وضعیت نور هم ترینګلی شي. نوموړې ویلي: ((له یوې خوا جګړه، له بلې خوا د سولې خبرې، بلخوا د حکومت د مشروعیت مسئله؛ دا ټول هغه څه دي چې په هېواد کې روان وضعیت نور هم ترینګلی کوي)).

ولسي جرګې ته یادو بریالیو اعلان شویو نوماندانو ویلي، د ولسي جرګې د پایلو د نه اعلان له امله، د نظام مقننه قوه فلج شوې چې له امله یې د نظام ډېری فعالیتونه ځنډېدلي او د نظام مشروعیت له ګواښ سره مخ دی.

یادو نوماندانو ویلي چې افغانستان دا مهال په یوه حساس پړاو کې دی او ټاکنیز کمېسیونونه باید ژر تر ژره د ولسي جرګې بشپړې پایلې اعلان کړي.

په ورته وخت کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا ویلي، چې د ولسي جرګې پر پاتو پایلو د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون له لوري کار روان دی او په نږدې ورځو کې به د ولسي جرګې د ټولو ولایتونو نهايي پایلې اعلان شي. د دغه کمېسیون مرستیال ویاند ذبیح الله سادات ویلي، د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون به ډېرې ژر وروستۍ پایلې ورسره شریکې کړي او دوی به هم تر هغه وروسته پایلې اعلان کړي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون د معلوماتو له مخې، تر دې مهاله د کندوز، بغلان، کابل، پکتیا او کندهار ولایتونو پایلې نه دي اعلان شوې او د غزني د ولسي جرګې ټاکنو برخلیک لا تر اوسه مبهم حالت کې دی.

### اوبو او برېښنا وزارت: ودانیز شرکتونه دې د برېښنا د تولید په برخه کې پانګونه وکړي




د اوبو او برېښنا وزارت له ودانیزو شرکتونو د برېښنا په برخه کې د پانګونې غوښتنه کړې، خو ودانیز شرکتونه ادعا کوي چې یوازې هغه کسان پروژې ترلاسه کولی شي، چې له سیاسي ملاتړه برخمن وي.

د اوبو او برېښنا وزارت سرپرست انجنیر محمدګل خُلمي چې د سوداګریزو او ودانیزو فرصتونو د یوولسم کلني کنفرانس پر مهال یې په کابل کې جوړې شوې غونډې ته خبرې کولې، ویلي چې د هېواد پرمختګ له خصوصي سکټور پرته ناشونی دی.

نوموړي زیاته کړې چې له خصوصي سکټور سره د حکومت د همکارۍ لپاره په دغه وزارت کې حقوقي چوکاټ جوړ شوی او خصوصي سکټور کولی شي چې د برېښنا تولید په برخه کې پانګونه وکړي.

نوموړي ویلي: «همدا اوس د اوبو برېښنا تولید درې پروژې او د لمریزې برېښنا د دوه زره مېګاواټه تولیدي پروژې ترلاس لاندې دي او خصوصي سکټور کولی شي چې په دې برخه کې پانګونه وکړي». خُلمي همدا راز زیاته کړې چې د هېواد په لوېدیځ کې د بادي برېښنا ٦٧ زره میګاواټه تولید ظرفیت شته او خصوصي سکټور په خپل کار کې په لړ بدلون سره کولی شي، په دې برخه کې پانګونه وکړي؛ ځکه د برېښنا تولیدي پروژې څه ناڅه په دغه سکټور پورې اړوند دي او دغه شرکتونه کولی شي چې په دې برخه کې پانګونه وکړي.

د هغه په خبره، د اوبو او برېښنا وزارت په دې وروستیو کې له اغاخان بنسټ سره تړون لاسلیک کړی، چې یاد بنسټ به برېښنا تولیدوي او حکومت به یې ترې پېري.

په دې غونډه کې د ودانیزو شرکتونو ټولنې د بورډ غړي صبغت الله کریمي ویلي، چې ځینې شرکتونه د ودانیزو پروژو ترلاسه کولو ته لېوال دي او د تطبیق لپاره یې هم اړین ظرفیت لري، خو ډېری پروژې هغه چا ته ورکول کېږي، چې سیاسي ملاتړ له ځان سره لري.

### حکومت د دوحې ناستې ګډونوالو ۲۵۰ کسیز نوملړ اعلان کړی دی




ولسمشرۍ ماڼۍ تېره ورځ د ۲۵۰ هغو کسانو نومونه اعلان کړي، چې ټاکل شوې له طالب استازو سره د خبرو لپاره قطر ته ولاړ شي. ټاکل شوې دغه ناسته د اپرېل له ۱۹مې تر ۲۱مې پورې د قطر په مرکز دوحه کې وشي.

د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند هارون چخانسوري رسنیو ته په ویډیویي پیغام کې ویلي، چې د یاد نوملړ په چمتو کولو کې د هېواد ټول اقشار په نظر کې نیول شوي دي.

نوموړي ویلي: «د افغانستان اسلامي جمهوریت د دوحې په کنفرانس کې د ګډون کوونکو کسانو نوملړ چې له اړوندو مراجعو څخه پېژندل شوي وو او ټول اقشار پکې په نظر کې نیول شوي، وروستی کړ».

د افغان پلاوي او طالبانو ترمنځ د دوحې ناسته په داسې حال کې ترسره کېږي، چې له دې وړاندې امریکايي پلاوي پنځه ځله له طالب استازو سره خبرې کړې دي.

د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد له دې وړاندې ازادي راډیو ته ویلي وو، هیله من دی چې روان کال به د سولې کال وي او اوس د دې وخت رارسېدلی، چې په افغانستان کې نور جنګ پای ته ورسېږي.

بلخوا طالبانو هم د دوحې ناستې ته چمتووالی نیولی او ویلي یې دي چې په دغه ناسته کې به د دوی په استازیتوب یو ۲۵ کسیز پلاوی ګډون وکړي.

طالبانو له دې وړاندې رویټرز خبري اژانس ته ویلي وو، چې د لومړي ځل لپاره به د دوی په پلاوي کې ښځې هم شاملې وي، چې په دوحه کې به د امریکا د متحده ایالتونو او افغان پلاوي سره د افغانستان د راتلونکي په اړه بحث وکړي.

د رویټرز تر دغه راپور وروسته، طالب ویاند ذبیح‌الله مجاهد په خپل ټویټر کې لیکلي، چې د هغه خبرې ناسمې تعبیر شوې او د قطر په ناسته کې د دوی په استازیتوب ښځې ګډون نه کوي.

### د بشري حقونو څارونکي: پاکستان دې د مذهبي اقلیتونو د خوندیتوب لپاره ژر تر ژره اقدام وکړي



په پاکستان کې د بشري حقونو یوې څارونکې ادارې د دغه هېواد پر چارواکو غږ کړی، چې د مذهبي اقلیتونو د خوندیتوب لپاره دې ژر تر ژره اقدامات وکړي.

د پاکستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په خپل وروستي راپور کې ویلي، توندلارو ډلو په دغه هېواد کې پرله پسې د شیعه وګړو جوماتونه، مذهبي غونډې، مذهبي مشران او نور انفرادي کسان په نښه کړي دي.

د دغه راپور له مخې، په ۲۰۱۸ ز کال کې پر شیعه مذهبو په دغه ډول بریدونو کې لږ تر لږه ۱۱۲ کسان وژل شوي دي.

دغه راپور څو ورځې وروسته له هغې خپور شوی، چې په کوېټه ښار کې ځانمرګی برید چې ظاهراً پر شیعه مذهبه هزاره ګانو شوی، ۲۰ تنه وژلي دي.

د یاد برید مسوولیت پاکستاني طالبانو او د اسلامي دولت ډلې یا داعش دواړو منلی دی.

د پاکستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون راپور چې په ۲۰۱۸ ز کال کې د بشري وضعیت نوم ورکړل شوی، همدا راز د هغو پېښو په اړه اندېښنې راپورته کړې، چې ویل کېږي خلک په زور د مذهب اړولو او یا هم د پاکستان له هندو او مسیحي اقلیتونو څخه ښځې او نجونې مسلمانو نارینه وو ته د ودولو لپاره مجبورېږي.

دغه کمېسیون ویلي، تېر کال یوازې په سند ایالت کې له هندو او مسیحي مذهبه، په زور د ښځو او نجونو د اړولو شاوخوا زر پېښې ثبت شوې دي.

د پاکستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د هغه څه په اړه هم اندېښنه ښودلې، چې دوی یې په پاکستان کې د جزا له قوانینو ناسمه استفاده یادوي.

د کمېسیون په خبره، له ۱۹۹۰ ز کال راهیسې په دغه هېواد کې شاوخوا ۷۰ کسان اسلام ته د سپکاوي په تور ځورول شوي دي.

کمېسیون ویلي، د جزا قوانین تر ډېره د خلکو د هغو ناسمو شکایتونو پر اساس پلي شوي دي، چې هغوی خپلې شخصي ستونزې پکې درلودې.

د راپور له مخې، په ډېرو مواردو کې مقدساتو ته د سپکاوي ادعاوې داسې حالت رامنځته کوي، مخکې تر دې چې متهم په قانوني ډول محاکمه شي، هغه د خلکو له غبرګونونو سره مخ او حتی په قصدي ډول وژل کېږي.

## د کتــاب خبــرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### اتم څپرکی
### خپل ذهنیت د ځان ملاتړی کړئ





نو لومړی د خدمت فکر کوئ، پیسې ورپسې خپله راځي. لومړی خدمت کول په هر ځای کې پیسې گټلای شي. د ځوانۍ په لومړیو کلونو کې د (ایم . ایچ) په نوم یوه کس سره همکار وم.
(ایم. ایچ) د پیسو گټلو پر ځای د پیسو پر اړتیا فکر کاوه. د شرکت وخت به یې په خپلو مالي فکرونو تېراوه. ټوله ورځ به پر دې موضوع لگیا و چې دې شرکت کې زه ولې تر ټولو ټیټ معاش اخلم.
دا ذهنیت به ورسره و چې: (دا لوی شرکت دی، میلیونونه ډالر عاید لري، ډېرو خلکو ته لوړ معاشونه ورکوي، نو ماته هم باید لوړ معاش راکړي.)
څو ځله یې د لوړ معاش غوښتنه رد شوې وه. یوه ورځ یې بیا د معاش زیاتولو غوښتنه وکړه. نیم ساعت وروسته راغی او سم په غوسه و. خبرو یې دا ښوده چې معاش کې یې هېڅ بدلون نه دی راغلی: (یاره ماغزه مې کار نه کوي، ما ورته وویل چې معاش مې لوړ کړئ، پوهېږې هغه بوډا څه وویل؟ ته څه فکر کوې چې ولې دې باید معاش لوړ شي؟
ما ورسره ډېر بحث وکړ، ورته ومې ویل چې د نورو معاشونه لوړېږي او زما نه لوړېږي. ورته ومې ویل مصرفونه لوړېږي او زما معاش نه لوړېږي. دا مې هم ورته وویل چې تاسې راته هر څه ویلي ما درته کړي دي.
ښه ته گوره، زه ډېر معاش غواړم، خو دوی ایله هغو ته ډېر معاش ورکوي چې پیسو ته یې اړتیا لږه ده.
رئیس راسره داسې لگیا وي، لکه خیرات چې ترې غواړم، هر وخت راته همدا یوه خبره کوي چې: کله دې کارې راپور وښودل چې د لوړ معاش ور یې، نو معاش به دې لوړ شي.)
زما ملگری د پیسو گټلو په چل نه پوهېده، وروستۍ خبرې یې د ده ټولې تېروتنې په گوته کړې. ده شرکته ویل: ډېرې پیسې راکړئ چې ډېر کار درته وکړم، خو سیستم داسې نه دی. معاش د ډېر کار په ژمنې نه لوړېږي، بلکې ستاسې په ډېرو هلو ځلو لوړېږي. د پیسو زړې چې و نه کړئ، پیسې نشئ رېبلی او د پیسو زړی کار او خدمت دی.
تاسې خدمت وکړئ، پیسې به خپله راشي. تاسې څه فکر کوئ چې کوم فلم جوړوونکی به پیسې وگټي؟
لومړی هغه چې پیسو ته یې تادي وي، ده ته پیسې تر کار ډېرې مهمې وي، هر څه زر کوي. ارزانه کیسه اخلي، ارزانه خلک گوماري، ارزانه وسایل پېري او لومړی لگښتونه حسابوي. دې کس ته خپل لیدونکي ارزښت نه لري، ماشومان ورته ښکاري او وایي چې ښه او خراب کار گني نه پېژني.
خو داسې خلک ډېر نه شتمنېږي، خلک دویمه درجه جنس ډېر نه پېري، خصوصاً هله چې د لومړۍ درجې جنس په بیه ورته پرېوځي.
کوم خلک چې په فلمونو کې ډېرې پیسې گټي، دوی هنر تر پیسو مهم گڼي. دوی کتونکي نه تېرباسي، هڅه کوي چې د هغوی تر تمې لوړ تولید ورته وړاندې کړي. بلاخره: خلک د دوی کار خوښوي، د خلکو منځ کې مشهورېږي، فلم په سینما ډېر ښودل کېږي او ډېرې پیسې گټي.
د هوټل شاگرد که یوازې خدمت کوي، نو د بخشش اندېښنه دې نه کوي، د بخشش یا ډالۍ خبره ورته راځي، خو که د همدې هوټل شاگرد یوازې پیسو ته گوري او چاته له دې امله پیاله نه ډکوي چې پیسې به گني ور نه کړي، رښتیا هم پیسې نه ورکوي.
کوم سکرتر/سکرتره چې د خپل رئیس لیک ښه او روښانه ټایپ کوي، حالت به یې زر ښه شي، خو داسې فکر وکړي چې په دې معاش همدومره کار کېږي او لیک سم ټایپول مې له لاسه نه کېږي، نو د دې کس معاش به هم لوړ نه شي.
یا لکه پلورنکی چې پېرودونکو ته ښه خدمتونه وړاندې کوي، د پېرودونکي بایللو وېره ورسره نه وي.
خدمتونو ته په لومړیتوب ورکولو کې درسره دا یو اسانه، خو قوي اصل مرسته کوي: خلکو ته د هغوی له تمې لوړ کار کوئ. تاسې چې چاته د هغوی له توقع لوړ کار کوئ، دا په اصل کې د پیسو زړی دی. تر ناوخته کار کول او د شرکت د یوې برخې ستونزه حلول د پیسو زړی دی، پیرودونکي ته د هغوی تر تمې لوړ خدمت وړاندې کول د پیسو زړی دی، هر کار یوازې د پیسو لپاره نه کول، د پیسو زړی دی، د گټورتیا لوړولو لپاره هره مفکوره عملي کول د پیسو زړی دی او پیسې له همدې زړو را شنې کېږي، نو خدمت وکړئ او پیسې ورېبئ.
تاسې خدمت وکړئ، پیسې درته خپله راځي.
لنډه دا چې، داسې ذهنیت جوړ کړئ چې بري ته مو ورسوي:
۱. دې ذهنیت ته وده ورکړئ چې زه فعال/ فعاله یم. د کار پایلې له کار سره د شته شوق له مخې ترلاسه کېږي.
ژور لاړ شئ. ډېر معلومات پیدا کړئ. دا خپله د شور و شوق پیل دی.
ښه زیري او خبرونه ورکړئ. هېڅ‌چا په بدو خبرو ښه کار نه دی کړی.
۲. نورو ته د ارزښت ورکولو ذهن ته وده ورکړئ. تاسې چې چاته ارزښت ورکړئ، هغه درته ډېر کار کوي. دا کارونه کوئ.
په هر حال کې ستاینه او درناوی مه هېروئ. خلکو ته ارزښت ورکړئ. په نوم ور غږ کړئ.
۳. دا ذهنیت پیدا کړئ چې لومړی به خدمت کوئ، پیسې به درپسې خپله منډې وهي. دا اصل په هر کار کې مراعتوئ. خلکو ته د هغوی تر تمې لوړ کار کوئ. **دوام لري...**

# د ژباړې لار

◀ اکسوس کتابپلورنځی

د (ژباړې لار) کتاب تازه په پښتو ژبه کې لیکل شوی دی. کتاب د ژباړې په برخه کې د مجرب او تر ډېره د همدې برخې د پاتې شوي استاد اسدالله وحیدي اثر دی.
د کتاب همدا پښتو ښه په څلورو څپرکو، د څپرکو په اخر کې دې یوې ضمیمې په درلود سره، ټولټال په ۱۳۱ مخونو کې خلاصه شوې ده.
دغه کتاب د لومړنیو ژباړونکو لپاره لیکل شوی دی. له سختو او د داسې کلمو، ترکیبونو، جملو او پرگراپونو له راوړلو په کې ډډه شوې، چې نوي لوستونکي یې په ژباړلو سره له ژباړې ویرېږي.
په دغه کتاب کې:
د ژباړن لومړني گامونه، غواړئ ژباړن شئ؛ خو نه پوهېږئ څنگه؟ له څه پیل وکړئ؟ څنگه پیل وکړئ؟ ژباړن څه ته اړتیا لري؟ د ژباړن ځانگړنې، د ژباړې ډولونه او نور دېته پر ورته مسایلو باندې چې د ژباړن لپاره پرې پوهېدل ضروري دي، پوره بحث شوی دی.
په پښتو کې د ژباړې بهیر له تېرو لسو کلونو راپدېخوا د تېر په پرتله چټک شوی دی. دې وروستیو دریو څلورو کلونو کې نږدې هر اونۍ په پښتو ژبه کې دوه درې کتابونه چاپېږي. دغه بهیر تر ډېره ښه روان دی او په پښتو ژبې ویونکو کې د کتاب مطالعه د تېر په پرتله ډېره شوې ده. د دغه مثبت او تر ډېره د مهم او بنسټیز اغېز لامل همدا ژباړه ده.
یاد بهیر له دغه ښه اغېز سره سره ځینې نیمگړتیاوې هم لري او هغه هم له دې امله چې ژباړونکي تر ډېره د ژباړې پر روانه لار سم پوه نه دي.
ځینې وخت خو داسې هم شوي چې ژباړونکي ژباړه د پیسو او یا هم په خلکو کې د شهرت پیدا کولو لپاره کوي؛ ځکه خو بیا د هر متن ژباړلو ته لاس اچوي.
دغه کتاب له تاسې پوښتي، لومړی وگورئ چې تاسې له ژباړې سره علاقه لرئ او که نه؟ که علاقه لرئ، د مطالعې او تخصص ځانگه مو کومه ده؟ ایا هغه ځانگه چې تاسې په کې ژباړه کوئ، لوستونکي او مینوال لري؟
که مو ځواب مثبت وي او ارزونه مو سمه وي، تاسې ته یې د ژباړه سپارښتنه کوي او که نه؛ درته وایي چې په هېڅ صورت ژباړه مه کوئ. د دغه کار پر ځای یو




بل کار پیل کړئ، کېدای شي هلته ښه پرمختگ وکړئ.
همدغه کتاب په دې او نورو هغو برخو کې چې د ژباړې بهیر زیانمنوي، د ستونزو د تکرار په مخنیوي کې درسره مرسته کوي.
د کتاب تر ټولو ښه ځانگړنه دا ده، چې د همدې لارې(ژباړې) په برخه د لیکوال د تجربو پر اساس لیکل شوی دی. پر هغو مسایلو په کې بحث شوی او هغه غوټې په کې خلاصې شوې دي، چې د دغه لارې تلونکي ورسره مخ دي.
مینه وال کولای شي دغه کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قیمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د خادم نړۍ لید( د دوکتورا دورې پایلیک ) | محمد اسمعیل یون | ۵۰۰؋ |
| ۲ | طالبه ! خدای که به ملا شې ( ناول) | پروفیسر ډاکټر نصیب الله سیماب | ۱۲۰؋ |
| ۳ | اختلالات روانی | دوکتور عبدالعزیز نادري... | ۲۰۰؋ |
| ٤ | د طبی لابراتوار سامان پېژندنه | ډاکټر عبدالله سهار | ۱۲۰؋ |
| ۵ | افغانستان د نړیوال استعمار په لومه کې | شاه ولی آرین | ۲۰۰؋ |
| ٦ | د نړیوالو اړیکو تاریخ له ۱۹۳۵زکال څخه تر ۲۰۰۸ ز کال پورې | موریس واعیس/حکیم الدین منځنی | ۲۰۰؋ |
| ۷ | د اسلامي معلوماتو خزانه | الحاج مولوي نورالله ناصح | ۱۵۰؋ |
| ۸ | تولید و کار گردانی در تلویزیون | جرالدمیلرسون/غلامرضا طباطبایی | ۲۰۰؋ |
| ۹ | اساسات آشنایی | پوهنوال نثار احمد کوهستانی | ۲۰۰؋ |
| ۱۰ | اخلاق پروتستان و روح سرمایه داری | ماکس وبر /عبدالمعبود انصاری | ۱۲۰؋ |
| ۱۱ | د تدریس کلیدی عناصر | محمد اسمعیل ستانکزی | ۲۲۰؋ |
| ۱۲ | وکتور آنالیز | خالقداد فیروز کوهی | ۳۰۰؋ |
| ۱۳ | د لویانو د روغتیا نرسنگ | ډاکټر مطیع الله غیرت ، ډاکټر عباس دانش.... | ۲۰۰؋ |
| ١٤ | مالي سیاست | دوست محمد احمدزی | ۱۵۰؋ |
| ۱۵ | مثبت فکر | ډاکټر نارمن ونسنټ پیېل/ثنا الله مومند | ۱۵۰؋ |
| ۱٦ | رمز ارائه موفق | رسول خان امین | ۱۵۰؋ |
| ۱۷ | تجارتی دعوې او حللارې | سیدعبدالحکیم حکمت | ۲۰۰؋ |
| ۱۸ | بنسټیز حقوق او سیاسی بنسټونه | پروفیسور دوکتور محمد طاهر هاشمی/عمران فضل | ۱۵۰؋ |
| ۱۹ | ډیپلوماتیکي او کونسلی حقوق | دوکتور جواد صدر/هجزت الله اختیار | ۲۵۰؋ |
| ۲۰ | په ملی او بین المللی حقوقی اسنادو کې د ماشوم حقوق | پوهندوی محفوظ الله عارفي | ۱۳۰؋ |
| ۲۱ | جگره ییز تبلیغات د عمومی نړیوالو حقوقو له نظره | پوهندوی محمد ایمل حقمل | ۱٦۰؋ |
| ۲۲ | د معنوی ملکیتونو حقوق | پوهیالی فضل هادي فضلي | ۱۳۰؋ |
| ۲۳ | مالي حقوق | نورالله نوري مجددي | ۲۰۰؋ |
| ۲٤ | د کار حقوق | پوهندوی سید اکرم هاشمي | ۱۰۰؋ |
| ۲۵ | د افغانستان اقتصاد | پوهنیار سید قیاس سیدي | ۱٤۰؋ |
| ۲٦ | د بانکدارۍ مقایسوی حقوق | پوهنوال دوکتور محمد مصطفی نیازی | ۱۸۰؋ |
| ۲۷ | د افغانستان ادرای حقوق لومړی ټوک | پوهاند نقیب الله ثاقب | ۲۰۰؋ |
| ۲۸ | د افغانستان ادرای حقوق دویم ټوک | پوهاند نقیب الله ثاقب | ۲۰۰؋ |
| ۲۹ | حقپالونکي صحابه او صحابیات | قیام الدین کشاف | ۲۵۰؋ |
| ۳۰ | د ژباړې لار | پوهنمل اسدالله وحیدي | ۱۲۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ     اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

همیانی

# نوی کال نوی ژوند؛ تکراري ژوند مه کوئ!

حمیدالله حمیدي

انسان باید تل په دې هڅه کې وي، چې راتلونکې ورځ یې تر تېرې هغه غوره وي او ورځ تر بلې په خپلو چارو کې پرمختګ وکړي او بریالی وي. پوهان وایي، هغه کسان چې تکراري ژوند کوي، د ژوندیو انسانانو په ډله کې نه راځي.
یوه ورځ پلار خپل یو کلن زوی ته لیک ولیک چې د لیک متن یوه برخه دا ډول وه: «زویه! همدا اوس چې ستا لپاره دغه لیک لیکم، پر تا باندې یو پسرلی، یو اوړی، یو منی او یو ژمی تېر شوي دي. زویه! پوه شه چې له دې وروسته ژوند تکراري دی، نو د یوه داسې وخت په تمه شه، چې له دغو څلورو فصلونو څخه په یوه کې به یې ستا عمر ختمېږي.
زویه! هڅه وکړه چې له دغو تکراري فصلونو څخه یو غیر تکراري ژوند جوړ کړې.
ګرانه! له ټولو مخکې د کال له همدغو لومړیو څلورو فصلونو زده کړه، ستا د ژوند پسرلی د زیږېدو له ورځې تر ځوانۍ پورې دی، هڅه وکړه چې د پسرلي په شان شین، ښکلی او وغوړېږې، کولای شې د اوړي په څېر د ژوند په منځنیو وختونو کې د خپل عمر له مېوې څخه ګټه واخلې، خو منی چې په هغه کې به ته د ځوانۍ پاڼې تویوې او د تورو وېښتانو ځای به دې سپین وېښته نیسي، ستا د ژوند د بوډاتوب وختونه دي. دا فکر مه کوه چې ته به تل ژوندی وې، بلکې ژمی به ستا د ژوند وروستۍ شېبې وي او له دې فاني نړۍ څخه به سترګې پټوې.
زویه! کله چې په پسرلي کې د ګلونو، پاڼو، ښاخونو او بالاخره د ټولو شنو شیانو ښکلا وینې، نو ژمی هم په پام کې ونیسه، له دنیا څخه دې یوازې د خپل عمر په اندازه توښه ټوله کړه او پاتې عمر د اخرت لپاره وقف کړه؛ ځکه دا دنیا له ټولو ښېګڼو او بدیو سره سره له منځه ځي، خو اخرت بیا داسې ځای دی چې په هغه کې به تل وې، په اخرت کې هېڅ هم ستا په درد نه لګي، بې له خپلو اعمالو چې هغه به دې یا د جنت پر لور بیایي او یا هم خدای مه کړه د دوزخ.
زویه! دنیا د اخرت لپاره د کښت ځای دی؛ نو مه هېروه هر څه دې چې دلته وکرل په اخرت کې به یې رېبې. پر دې هم پوه شه، یو څه چې انسانان به د اخرت په ورځ له هغې ډېرې بدې ورځې کوي، هغه د وخت ببخځایه تېرول دي، ان دا چې په دې نړۍ کې هم انسانان د وخت ارمان کوي، کله چې کال پرې تېر شي بیا یې ارمان کوي، مانا دا چې هر کال د تېر کال په ارمان وي. حضرت علي کرمه الله فرمایي: «هغه کسان چې دوې ورځې یې په یو شان تېرې شي، پوه شی چې دوی په زیان کې دي». نو کله دې چې لومړی پسرلی زما دغه لیک ولوست، د دې پر ځای چې د کور په پاکولو پیل وکړې، لومړی دې خپل زړه پاک کړه او داسې ژوند وکړه چې د کال په اخر کې د دې ارمان ونه کړې، چې دا کال مې څنګه په عبسیاتو تېر کړ.
ښه وخت درته غواړم!
مینه درسره لرم
ستا پلار»
ګرانو لوستونکو! موږ د هماغه یوه کلن ماشوم په څېر یو چې اوس لوی شوي یو او کولای شو دغه لیک ولولو او له محتوا یې ګټه واخلو.
ولې هر کال د تېر کال په ارمان؟ ځکه موږ هر کال تکراري کارونه کوو، کوم مو چې تېر کال کړي او پایله یې یو ډول راوځي، نو له ځان سره افسوس کوو چې یو کال مو بېځایه تېر کړ. که غواړې چې راتلونکی کال مو د تېر کال په پرتله په هر لحاظ ښه وي، نو لازمه ده چې تاسو هم توپیر یا بدلون وکړی او دا خبره په یوه شرط امکان لري، چې هغه مهالوېش دی.
سخته خبره نه ده، یوازې یوه A٤ سپینه پاڼې واخلئ، په منځ کې یې په دوو برخو خط کشي کړئ، په ښي طرف کې مو د ضعف ټکي او بدۍ ولیکئ او په کیڼ طرف کې مو قوت او ښېګڼې. ښېګڼې مو د دې لپاره ولیکئ چې دا د خدای پاک یو نعمت دی، چې تاسو ته یې درکړی دی او پر نعمت باندې شکر ایستل، نعمت زیاتوي. ضعف او بدۍ مو د دې لپاره ولیکئ چې د حللارې ورته پیدا کړئ او له خپل وجوده مو یې ریښې وباسئ، چې درې برخې مشارطه، مراقبه او محاسبه په کې شاملې دي. د بېلګې په ډول، که دروغ وایاست، له ځان سره شرط کېږدئ چې تر ببګا پورې به دروغ نه وایاست دا مشارطه ده.
د دې لپاره چې ځان ته مو پام وکړی، څو دروغ ونه وایاست، دا مراقبه ده او دا چې د شپې حساب کوی چې د ورځې په اوږدو کې مو څو ځلې دروغ ویلي دي، دا بیا د محاسبې برخه ده. ډاډه اوسی چې د دې چارې په ترسره کولو سره به ډېر ژر له خپل وجود څخه بد عادتونه له منځه یوسی. تر ټولو مهمه خبره دا ده چې هڅه مه کوئ په یوه وخت کې ټول بد عادتونه چې تاسو یې لری، له منځه یوسی؛ ځکه که داسې وکړی، کېدای شي په خپل کار کې مو د بریا کچه را ټیټه شي. که مو کمې نومرې واخیستې، مه نا هیلي کېږئ او کار مو مه خرابوئ، ډاډه اوسی چې ډېر ژر به مو دغه کړنه پایله ورکړي.
په دې هیله چې له دې وروسته مو دا شعار چې (هر کال د تېر کال په ارمان) پر دې شعار چې (هر کال بهتره له تېر کاله) باندې بدل شي.

# سایکوز بعد از ولادت (post-partum psychosis)

نوسینده: ترینر متخصص دوکتور خوشحال توفیق

در DSM4 معیارهای تشخیصی خاصی برای سایکوز بعد از زایمان(ولادت) وجود ندارد، وقتی می‌شود را گذاشت که وقوع سایکوز ارتباط زمانی نزدیک با ولادت داشته باشد.

**علایم مریضی:**

اغلب در چند روز پس از ولادت شروع می‌شود و تقریباً همه موارد در عرض هشت هفته بعد از ولادت رخ می‌دهد. بطور مشخص مریض ابتدا از خستگی، بی‌خوابی، بی‌قراری، اغبشاش شعور، بی‌ربط گویی، اظهار غیر عاقلانه و تشوشات وسواسی در مورد سلامت رفاه اولادش ممکن است پیدا کند. در ۵۰٪ مریضان هذیان ودر ۲۵٪ وهم وترس نیز ممکن است پیدا کند و همچنان شکایات در مورد ناتوانی در حرکت کردن و ایستادن نیز شایع است. مریض ممکن است احساس کند دلش نمی‌خواهد از اولادش مراقبت کند، اولادش رادوست ندارد و گاهی دلش می‌خواهد به خودش و اولادش صدمه برساند و یا ممکن است از تولد اولادش منکر شود. اکثراً مادران که طفل اولش باشد، نزدش این مشکلات بروز کند. میزان بروز اش یک در هزار ولادت است.

اتیولوژی یا اسباب:

علت اساسی‌اش نامعلوم است، لکن فکتورهای ذیل در اسباب مریضی رول دارد:

- فکتورهای جنتیکی: تاریخچه فامیلی یا یک مرض عمده روانی
- فکتورهای بیوشیمیکی: اختلال هورمونی وهورمون‌های غده نخامیه، قبل از ولادت سویه استروجن بالارفته(تخریشیت زیاد می گردد) و سویه پروجسترون اش پایان امده که سبب افسردگی می گردد که با مشکلات مریض افزوده شده که سایکوز بعد از ولادت با تاریخچه افسردگی بعد از ولادت است
- ازدیاد سویه ادینوزین مونوفاسفیت حلقوی (AMP) در زمان حاملگی
- در اواخر حاملگی سویه کورتیزول ادرار زیاد می گرد و بعد از ولادت کم می‌شود
- سویه هورمون‌های تایرایید مختل می گردد
- سویه اندومورفین‌ها داخل عضویت پایین امده که فعالیت حرکی کم می گردد و نزد مریض بی ثباتی وبی علاقگی بوجود می اید
- خواب مرحله چهارم کم شده که ارتباط باتخرشیت ومزاج همراه می باشد
- فکتورهای سایکودینامیک: که در فکتورها ارتباط مریض با مادرش احساسات در برابر مسولیت‌های مادری عکس‌العمل او در برابر خانم بودن ارتباط با شوهرش تهدیدات وسواس جبری موجود است
- فکتورهای ولادی واقعات ولادی دیگر بسیار حایز اهمیت است
- امراض مترافقه، مثلاً امراض دوقطبی یا امراض سایکوتیک



**شیوع:** سایکوز بعد از ولادت یک اختلال معمول مزاجی است. اوسط سایکوز بعد از ولادت ۱-۲ فی هزار ولادت است

**تداوی:** مریض باید داخل بستر شود، خصوصاً در حالت خودکشی یا اولادکشی یا حالت کتتونیک

دواهای ضد افسردگی(Antidepressant)) خصوصاً خاندان TCA ادویه‌های سه حلقوی

انتی سایکوتیک(antipsychotic) هلوپیرودول ۱۰-۳۰ ملی گرام روزانه سه مراتبه از طریق دهن، ریسپیرودون ۴-۸ ملی گرام روزانه دو مراتبه

لیتوم

سایکو تراپی

ECT یا شاک برقی

# د سیاسیونو له پرېکون سره سره، چارواکي وایي لویه مشورتي جرګه په خپل وخت ترسره کېږي

په داسې حال کې چې د ملي یووالي حکومت د اجرایه رییس عبدالله عبدالله په ګډون، د ولسمشریزو ټاکنو ځینو نوماندانو او سیاسي څېرو په لویه مشورتي جرګه کې د نه ګډون پرېکړه کړې، خو د سولې مشورتي لویې جرګې د جوړولو کمېسیون ویلي، د دې جرګې نېټه معلومه شوې ده او په ټاکلې نېټه به ترسره شي.
د دې جرګې د جوړولو کمېسیون ویاند سیدعلي کاظمي ازادي راډیو ته ویلي: «د سولې مشورتي لویې جرګې د ترسره کېدو نېټه مشخصه شوې او ټول چمتووالی ورته نیول شوی. د ولسمشر او اجرایه رییس ترمنځ ناسته شوې او هیله من یو چې یوه داسې جرګه ولرو، چې د یو ملي بحث لامل وګرځي».
دا په داسې حال کې ده چې د روانې اونۍ د یکشنبې په ورځ د اجرایه رییس عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټیم په مشورتي لویه جرګه کې د نه ګډون اعلان کړی دی.
د دغه ټیم په اعلامیه کې راغلي چې د دې جرګې جوړېدل د افغانستان د ستونزو د هواري لپاره ګټوره نه دي او له همدې امله په یاده جرګه کې ګډون نه کوي.
د حنیف اتمر په مشرۍ د سولې او اعتدال او د رحمت‌الله نبیل په مشرۍ د امنیت او عدالت ټاکنیزو ټیمونو هم دغه جرګه تحریم کړې ده.
د اتمر ټاکنیز ټیم د یوې اعلامیې په خپرولو سره دغه جرګه فرمایشي او د ولسمشر د ټاکنیز کمپاین هڅه بللې ده.
د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ځینو نورو نوماندانو ګلبدین حکمتیار، فرامرز تمنا، نورالحق علومي او ځینو سیاسي څېرو هم د ورته اقدام په کولو سره، په دغه جرګه کې د نه ګډون اعلان کړی دی.
ټاکل شوې چې د سولې لویه مشورتي جرګه د را روانې ثور میاشتې په نهمه جوړه شي.
له دې وړاندې د سولې عالي شور د دارالانشا او سولې مشورتي جرګې د جوړېدو کمېسیون رییس محمد عمر داوودزي ویلي وو، چې په دغه جرګه کې به دوه نیم زره کسان چې نیمایي به یې انتخابي وي، ګډون وکړي او د سولې د پروسې په اړه به سلا مشورې وکړي.

اقتصاد

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۷۰ |
| € | ۸۷,۷۰ |
| Rp. | ۵۳۷ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۰ |
| £ | ۱۰۱ |

## پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

## بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey




چهارشنبه د ۱۳۹۸ د وري ۲۸مه | د ۲۰۱۹ د اپریل ۱۷مه | دویم کال | ۳۶۵مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۷ | ۲۳ | ۲٤ | ۲۳ | ۲۳ | ۲۰ |
| ۷ | ۱۱ | ۱۳ | ۱۳ | ۱۵ | ۱۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۵۳ | لمر ختل ۰۵:۲۱ | ماسپښین ۱۱:۵٤ | مازیگر ۰۳:۳۳ | ماښام ۰٦:۲٦ | ماخوستن ۰۷:۵۵

## نړۍ



# د بشري حقونو څارونکي: پاکستان دې د مذهبي اقلیتونو د خوندیتوب لپاره ژر تر ژره اقدام وکړي

۳

## روغتیا نړیوال سازمان: د طرابلس نیولو لپاره په جگړو کې ۱۴۷ کسان وژل شوي دي



د روغتیا نړیوال سازمان یا «WHO» ویلي، د لیبیا پر پلازمېنې طرابلس د کنټرول لپاره د سیالو ډلو ترمنځ په جگړو کې تر دې دمه ۱۴۷ کسان وژل شوي دي.

د ملگرو ملتونو دغې اړوندې ادارې همدا راز ویلي، ٦۱۴ نور کسان له هغه وخته چې د لیبیا د ملي پوځ په نوم وسلهوالې ډلې د اپریل په پنځمه خپل پراخ عملیات پیل کړي، ټپیان شوي دي.

په لیبیا کې د روغتیا نړیوال سازمان دفتر د جگړې پر ښکېلو خواوو غږ کړی، چې له زغم څخه کار واخلي او روغتونونو، امبولانسونو او روغتیایي کارکوونکو ته له زیان اړولو ډډه وکړي.

ملگرو ملتونو ویلي، په دغه هېواد کې یوازې په یوه وروستۍ ورځ ۲۵۰۰ ملکي وگړي د جگړو له کبله د خپلو مېنو پرېښودو ته اړ شوي، چې له دې سره د ټولو بې ځایه شویو خلکو شمېر له ۱۸ زرو اوړي.

په دې وروستیو کې لیبیا د دوو موازي حکومتونو ترمنځ، چې یو د یاد هېواد په ختیځ او بل لوېدیځ کې واکمن او دواړه ملېشې ډلې لري؛ وېشل شوې ده.

د خلیفه حفتر په مشرۍ د لیبیا د ملي پوځ په نوم وسله والې ډلې له تېرو څو میاشتو راهیسې د دغه هېواد د پلازمېنې طرابلس د نیولو لپاره له څو لورو بریدونه پیل کړي دي.

## انټونوف: د روسیې د وسلو تولید اوسنی پروگرام د «سټارټ» ترون برخه نه ده



د امریکا لپاره د روسیې سفیر اناتولي انټونوف په واشنگټن کې د وسلو د کنټرول په اړه یوې ناستې ته ویلي، چې د روسیې د وسلو جوړولو ستراتېژیک پروگرام د هغه ترون برخه نه ده، چې له مخې به یې په نړیواله کچه د وژونکو وسلو د تولید کچه راټیټېږي.

نوموړي زیاته کړې: «زموږ د وسلو تولید اوسني بهیر په تړاو یوازې دا ویلی شم، چې دغه موضوع د شوې هوکړې برخه نه گرځي».

نوموړي ویلي چې متحده ایالتونه بیا بیا هڅه کوي، څو د روسیې د ستراتېژیکو وسلو روان بهیر هم د «سټارټ» په نوم د وسلو د کنټرول هوکړې برخه وگرځوي، خو دغه هېواد باید پوه شي چې د وسلو د تولید یاد پروگرام د دې هوکړې برخه نه دی.

انټونوف دغه راز ویلي چې دوی د وسلو کنټرول یادې هوکړې ته ژمن دي، خو متحده ایالتونو په دې وروستیو کې یاد ترون څو ځله نقض کړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې روسیې په دې وروستیو کې اعلان کړی، چې له متحده ایالتونو سره د دغه لانجمن ترون پر سر خبرو کولو ته ژمن دي.

نوموړي زیاته کړې چې د روسیې له څو ځلي غوښتنو سره سره، بیا هم متحده ایالتونه د دغه ترون پر سر د خبرو لپاره حاضر نه دي.

## وزارت مالیه: آلمان بیش از پنج میلیارد افغانی در افغانستان سرمایه گذاری می کند



آلمان حدود ۵،۱ میلیارد افغانی را در بخش‌های حکومتداری خوب، توسعه پایدار اقتصادی و نیز توسعه شهری و زیربنای شاروالی‌ها در افغانستان سرمایه گذاری می‌نماید.

این مطلب را وزارت مالیه افغانستان، دیروز بعد از پایان مشوره های حکومتی پیرامون همکاری میان افغانستان و جمهوری فدرال آلمان در سال ۲۰۱۹، اعلام داشته است.

در خبرنامه وزارت مالیه افغانستان آمده است: «وزارت همکاری اقتصادی و توسعه آلمان (BMZ) متعهد گردید که حدود ۵،۱ میلیارد افغانی (معادل ۵۹ میلیون یورو) را در عرصه های حکومتداری خوب، توسعه پایدار اقتصادی و نیز توسعه شهری و زیربنای شاروالی‌ها در افغانستان سرمایه گذاری نماید. علاوه بر آن، مبلغ ۸،۷ میلیارد افغانی دیگر (معادل ۱۰۰ میلیون یورو) به صندوق وجهی بازسازی افغانستان اختصاص داده می‌شود. از سال ۲۰۰۱ م بدین‌سو، حکومت آلمان مجموعاً ۳۴۵ میلیارد افغانی (معادل ۴،۰٦ میلیارد یورو) را در افغانستان سرمایه گذاری کرده است».

به اساس معلومات منبع، از سال ۲۰۰۱ م بدین‌سو، حکومت آلمان مجموعاً ۳۴۵ میلیارد افغانی را در افغانستان سرمایه گذاری کرده است.

در خبرنامه آمده است: «در بدل این سرمایه گذاری، آلمان از حکومت افغانستان انتظار دارد که تحت چهارچوب پاسخگویی متقابل جینوا، به تعهدات خویش مبنی بر انجام اصلاحات در زمینهٔ مبارزه با فساد اداری، جلوگیری از خشونت علیه زنان، تساوی جندر و فرصت‌های مساوی برای زنان و نیز تأمین شفافیت در استخراج معادن و سکتور استخراج عمل نماید».

منبع می‌گوید که به همین جهت، از جملهٔ ۸،۷ میلیارد افغانی (معادل ۱۰۰ میلیون یورو) که به صندوق وجهی فوق الذکر اختصاص یافته است، مبلغ ۵،۲ میلیارد افغانی (معادل ٦۰ میلیون یورو) مشروط بر تطبیق اصلاحاتی خواهد بود که مشترکاً در چهارچوب پاسخگویی متقابل جینوا، روی آنها موافقه صورت گرفته است.

## ژوند

## څه وکړوچې د زړه پر ناروغۍ اخته نه شو؟



هڅه وکړئ چې وزن مو تاکلې اندازې ته راښکته کړئ؛ ځکه کله چې د انسان وزن زیات شي، په څنگ کې یې ورسره د وینې غوړ هم زیاتېږي، چې دغه څه د زړه حملې او دربدو ته لار هواروي. د وینې د غوړو د کچې لوړېدل، د زړه د رگونو د تنگېدو یا ان بندېدو سبب کېږي او دا په خپل وار د زړه حملې ته لار هواروي.

**۲- فیبر لرونکي خواړه وخورئ**

د دې لپاره چې د زړه له حملو په امن کې شی، هڅه وکړی چې په خپل غذایي رژیم کې له فیبر لرونکو خوړو، لکه فیبر لرونکو مېوو، فیبر لرونکو سبزیو او د غنمو له سبوسو څخه گټه واخلی. د انگلستان اکسفورډ پوهنتون د اوو کلونو په موده کې په یوه څېړنه کې ثابته کړې، چې هره ورځ په لږه اندازه مېوه خوړل، د زړه او دماغي سکتې په کمېدو کې مثبت تمامېږي. په دې څېړنه کې نږدې پنځه زره چینایانو برخه اخیستې وه.


**۳- سگرېټ مه څکوئ**

**۴- د کبانو غوښه وکاروئ**

**۵- الکولي مشروبات مه څښئ**

د فزیکي فعالیت او ورزش ارزښت ډېرو څېړنو ثابت کړی دی. له ورزش او فزیکي فعالیت پرته د انسانانو روغتیا له بېلابېلو گواښونو سره مخ ده. د زړه روغتیا ته دغه گواښ تر نورو ډېر نږدې دی.

## له غوسې د تېښتې یوازینۍ لار بښنه ده



بښنه هېڅ اندازه نه لري او باید ویې هم نه لري. تاسو پر دې پوه یاست چې الله پاک تر ټولو لوی بښونکی دی. موږ ټول په همدې هیله شپې او ورځې تېروو، چې خدای پاک به د کړو گناهونو بښنه راته وکړي؛ ځکه پر دې عقیده لرو چې الله پاک بښونکی دی او ضرور به مو بښي. سپارښتنه دا ده چې بښنه او له مهربانۍ ډک ژوند وکړئ. فیلېپ مک گرا په دې اړه سپارښتنه کړې ده: «له هغې ځورونې چې نورو پر تاسو تحمیل کړې، ځان خلاص کړئ؛ که نه همدا غوسه به ستاسو خپل وجود وخوري او د ژوند په یوې برخې به مو تبدیله شي. د غوسې له زندانه تېښته یوازې په بښنې سره کېدای شي. که څوک زموږ په حق کې یو ناوړه کار وکړي او زموږ په گډون یې ډېر خلک بد وبولي، موږ د دې لپاره چې غچ مو اخیستی وي او د هغوی په حق کې ورته کار مو کړی وي، بیا به نو زموږ او هغوی ترمنځ هېڅ توپیر نه وي شوی. د بدو په حق کې بد کول د هر چا د وس خبره ده، اصلي خبره دا ده چې ته دومره زغم او صبر ولرې چې له یو چا سره د هغوی د بدو په بدل کې ښه وکړې».